پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۴/۰۳/۳۰

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۵۸ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سويل – ختيځې

ايديټ:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**مانو و ماهوره** : [1] : ۱۵ – ۳۴، ۱۸ – ۷۰ «ن»: دا يو کلی دی چې د جلال آباد په ولسوالي کې په چپ رېار کې واقع او له دوه وو کوچنيو کليو څخه جوړ سوی دی او له «هديه خيلو» [2] څخه شاوخوا څلور مايله لېرې واقع دی. «ماهوره» [3] د چپ رېار د سيند د ښی غاړې په اوږدو کې او مانو ئـې په کينه غاړه کې واقع دی. استوګن وګړي: خوګياني او صاحبزاده ګان. (جنکينز)

ياد داشت: کيدای سي دا په نقشې کې هماغه «مانو» او «ماوره» [4] وي.

**مانوزي** :وګوریٔ: ماماخيل

**منزينه** : [5] : – ۳۴، – ۶۹: دا د جلال آباد په حصارک کې يو کلی دی چې د شينوارو ۳۰۰ کورونه لري. (مک کريګر) په دې نوم يو بل ځای په ۱۳ – ۳۴، ۲۹ – ۷۰ «ن» کې واقع دی.

**ماوره**: وګوریٔ: مانو او ماهوره

[1] -MANU -O- MAHURA
[2] -Hadia Khel
[3] -Mahura
[4] -Mano and Maora
[5] -MANZINA


افغان جرمن آنلاين په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**مَرَک**: [6]: دا د بهسودو د علاقه داري د لسو «دستو» [7] په منځ کي یوه «دسته» ده.

**مره خیل**: ماره خیل : [8]: ــ ۳۴، ــ ۶۹ : دا د کابل د ختیځ په ۵۵ مایلی کي د «کرکچه» [9] د کوتل له لاري تر جلال آباد پوري یو کلی دی. «تورنتون»

**مران ساه** : [10] : ــ ۳۳، ــ ۶۹: دا له علي خیلو ښخه د پیوار د کوتل پر لور له پینځو مایلو په تېــریدلو سره د شپنو او د هغوی د ښارویو لپاره یو کوچی پناه ځای دی. (کولت)

* **مراو کوټ**: [11]: ۳۹ ــ ۳۲، ۱۴ ــ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا د ولایت په شمال ختیځ کي د سروبي په سویل ختیځ کي د «مارغه رود» [12] د غاړي په اوږدو کي یو کلی دی.

**مروره:** [13]: ۵۳ ــ ۳۴، ۱۱ ــ ۷۱ «ن»: د کونړ په دري کي د چغه سرای په تقریباً مخالف لور کي د مروري لوی کلی په همدې نوم دري په خولـۀ کي واقع دی؛ همدې دري کي یو کوتل دی (ښایي ۸۰۰۰ یا ۹۰۰۰ فیته لوړ وي) چي په باجوړ منتهي کـېـږي. مروري کي د «ماموند» [14] قبـیـله استوګنه ده؛ له همدې ځایه نېـږدې تر اسمار پوري د سیند په کینه غاړه کي افغانان د دې سیمي لړ کنترول لري. د همدغو کلیو له یوې غونډې ښخه د سرحدي تحدید د کمیسیون افغانانو ساتونکو باندي په «نشه ګام» [15] کي ډزې وسوې. (کولد ستریم) په دې نوم بل ځای جګدلک ته نېـږدې په ۲۹ ــ ۳۴، ۴۵ ــ ۶۹ «ج» کي موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**مر بولاق**: [16]: ۱ ــ ۳۴، ۴۹ ــ ۶۷ «ن»: دا د غزني د ولایت په شمال کي د «بندِ دو آب» [17] په شمال لویدیځ کي د «دریای سګان» [18] پر غاړي یو کلی دی.

**مرد کـُـش:** [19] : ۴۰ ــ ۳۴، ۵۲ ــ ۶۶ «ج»: دا د «بکاک د تـنګي» [20] په خولـۀ کي په کلا کي را محصور یو کلی دی؛ دې کلي کي د تکانه هزاره ګانو ۲۰ کورونه دی. «میتلند»

**مــَرغ:** ګورئ: زاک : [21]:

6 -MARAK
7 - dastas
8 -MARA KHEL
9 -Karkacha pass
10 -MARAN SAH
11 -MARAO KOT
12 -Margha Rud
13 - MARAWARA
14 -Mamunds
15 -Nashagam
16 -MARBULAQ
17 -Band -i -Doab
18 -Daria -i -Sagan
19 - MARDKUSH
20 -Bakkak glen
21 - MARCH See ZAK : ددې نوم مخې ته ئې په عربي الفباء «مرګ» لیکلي دي. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاږوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

**مرغه:** ۴۷ ــ ۳۲، ۲۰ ــ ۶۹ «ن»: دا د وزیرستان په لویدیځ کې په برمل کې یو کلی دی. تر دې مربع ډوله کلي دیوالونه راتاو دي چې ۳۰۰ کورونه لري. دا برمل کې اساسي یا ګڼ استوګنې سیمه ده چې په «اتمانزیو وزیرو، کابل خیلو» [22] پورې اړه لري او عمدتاً د «سیف علي» او «پی پالي» [23] په څانګو اړه لري. اوبـهٔ ئـې ښې او پریمانه دي چې هم له سیند څخه او هم د اوبو له چینو څخه دي. پسونه، مرغان، اوړه، غوړي، وریجې او نور دلته پریمانه دي. (مک نایر)

دا له برتانوي قلمرو څخه د «دروار» [24] د درې له لارې تر غزني پورې د لارې په اوږدو کې یو مهم منزل دی. دا ځای له اورګون څخه (چې وزیر ئـې وُرګین [25] تلفظ کوي) ۹ مایله لیرې دي. (مک لین) په دې نوم یو بل ځای په ۱۹ ــ ۳۴، ۵۶ ــ ۶۳ «الف» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**مرغه:** ۴۹ ــ ۳۲، ۲۲ ــ ۶۹ «ن»: دا په برمل کې یو سیند دی چې په «دو توی» [26] کې له «مستوی» [27] سره یوځای کـېـږي او د دواړو سیندونو له یوځای کیدلو وروسته د «توچي سیند» [28] جوړېـږي.

**مرغه:** ۲ ــ ۳۳، ۱۳ ــ ۶۹ «ن»: دا د «قلات غلزایي» [29] د ختیځ د شاوخوا ۶۵ مایلۍ کې په یوې دښتې کې یو کلی دی. دا کلی یو شمـېـر کرنیز ځمکې لري او اوبـهٔ ئـې د اوبو له چینو او کاریز څخه ترلاسه کـېـږي. (لمسدن)

**مَـرغی:** [30] : دا د منګلو د قبـیـلې یوه څانګه ده.

**مرغه کـی:** [31] :۸ ــ ۳۲، ۱۰ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني د ولایت په سویل کې د «جبار کلي» [32] ته نېـږدې د «وازې خوا» [33] په لویدیځ کې یو کلی دی.

**مَـرغي:** ۵۸ ــ ۳۴، ۳۱ ــ ۶۶ «ن»: لوړوالی: ۷۳۵۵ فیټه. دا د «یخ ولنګ» [34] د ولسوالي په لویدیځ کې یو کوچنی کلی او کلا ده چې په همدې نوم د نالې پر غاړې واقع دی، دا ناله له سویل لویدیځ لوري راځي او په هغـهٔ ټکي کې په بندِ امیر ورننوځي چې «د سړک له لارې» له فیروز آباد څخه نېـږدې ۴۵ مایله لیرې راځي. په «دهانِ مرغي» [35] او «نو بالا مرغه» [36] دواړو کې په ګډه ۱۰۰ کورنۍ دي چې عمدتاً هزاره ګان دي.نو بالا یو هزاره منځغری یا میان کوه دی نو له

---

22 -Kabul Khel Utmanzai Waziris
23 -Saifali and Paipali sections
24 -Drwar valley
25 -Wargin
26 -Dwo Toi
27 -Mastoi
28 -Tochi river
29- Kalat -i- Ghazni : په انګلیسي متن کې ددې نوم په لیکنې کې ټایپي تیروستنه سوې ده قلات غلزايي په قلات غزني لیکلی دی. - ژ
30 -MARGHAI
31 -MARGHAKAI
32 -Jabbar Kalai
33 -Wazakhwa
34 -Yakh Walang
35 -Dahani- Marghi
36 -Nobala Margha



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دې کبله نوبالا مرغي ظاهراً دا معنی ښندي چې د «مرغي د منځغري» [37] په شاو خوا کې خوارهٔ وارهٔ کلي پراتهٔ دي او شک نـهٔ سته چې دهانِ مرغي د هغهٔ کلي نوم دی چې د همدې منځغري په خولـهٔ کې واقع دی. میتلند وايي :

«مرغي يو منځغرى دى چې د ننوتلو لاره ئې کلي ته جوخت له کيڼ لوري کـېـږي. ور ها خوا ئـې د «کوهٔ مرغي» په نوم يو ډېرين مهميز دی. د درې په دواړو غاړو کې غرونه دنګ دي او تر ډېـره د لاسرسي وړ نـهٔ دي او يا نـهٔ لاسرسی ته نيـږدې دي. »

«دهان ِ مرغي د مهدي بيګ استوګنځای دی، مهدي بيګ د «خم ِ آبه» [38] د سيمې مشر دی او دهان مرغي کې «سبز دره» [39] هم شامله ده؛ د «خاص الکاني» [40] حد د همدې ځای په سويل ختيځ کې يو مهميز دی. مهدي بيګ اوس ډېـر لږ واک او صلاحيت لري. پروسږکال ,,۱۸۸۴ز،، يا ورم کال مهدي بيګ غوره وبلله چې بغاوت وکړي، خو کله چې په دې پوه سو چې د دهٔ پر ضد به سرتـيـري راولېـږل سي نو غوره ئـې وبلله چې سردار اسحق خان ته وتښتي. سردار يو ليک امير ته ولېـږهٔ او ورته ئـې وويل چې په مهدي بيګ دې غرض نـهٔ لري ځکه چې مهدي بيګ د دهٔ د پلار يو پخوانی نوکر اوخدمتګار وو. امير هم مهدي بيګ ته عفو وکړه خو امر ئـې وکړ چې هر ځای چې وي بايد خپل ماليات د باميانو حاکم ته ورکړي او په دې توګې ئـې مهدي بيګ له خپل واک او نفوذ کې خلع کړ. ما غوښتل چې له مهدي بيګ سره له نيـږدې وګورم خو راته وويل سول چې نوموړ په ښکار وتلی دی.»

«دا ځای د هزاره ګي غاليو د توليد لپاره تر ټولو ښـهٔ ځای دی؛ دا غالی يا ګليمونه زېـږه اوبدنګ لري. دا ګليمونه په کابل کې د هغوی د دوام د کيفيت له کبله ډېـر ارزښت لري چې د کوټو د غوليو او د دالانونو د فرش کولو لپاره ښـهٔ کار ورکوي. شک نـهٔ سته چې دا ګليمونه ښه سودا ګري لري، «کورزين» [41] د همدغو موادو او هم «نمد» [42] يا نيمڅي؛ همدا شان د کرباس په جامو، غوړيو، پسونو او نورو کې هم سوداګري کـېـږي.( ميتلند)

**مر هز:** [43]: ۳۴، ـ ۶۹ : دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه دارئ کې يو کلی دی چې د «ياهي بند» [44] د سويل په ۲ نيـږدې ۲ مايلی کې موقعيت لري. استوګن وګړي: شينوار. (جنکينز)

**مريم:** ۴۰ ــ ۳۴، ۱۱ ــ ۷۰ «ج»: دا په لغمان کې د اليشنګ د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې د تـيـرګړهيو د شمال لويديځ په نيـږدې ۵ مايلی کې يو کلی دی. لاندې د هغو کوچنيو کليو اوکلاګانو ليست وړاندې کـېـږي چې دا کلی ئـې په ټوله کې جوړ کړی دی:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | مهمند پور | Muhammadpur |
| ۲ | قلعـهٔ ملا افضل | |
| ۳ | قلعـهٔ مير بادشاه | |
| ۴ | قلعـهٔ نسيم | |
| ۵ | قلعـهٔ صوفيان | |

37 -Marghi glen
38 -Kham -i- Aba district
39 -Sabz Dara
40 -Alkanis proper
41 -kurzins
42 -numdahs
43-MARHEZ
44 -Yahiband



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

| | |
|---|---|
| ۶ | قلعهٔ ملک لنگ |
| ۷ | قلعهٔ ملایان |
| ۸ | باندهٔ ملک شجاع |
| ۹ | ملک جان محمد |
| د پورتنيو کليو وګړي دهګانان Dehgans دي. | |
| (واربرتن) | |

**مريز:** [45]: ــ ۳۴، ــ ۷۰: دا له جلال آباد څخه ۱۵ مايله ليرې د شينوارو په سيمې کې يوه کلا ده. د جلال آباد له لوري دې کلا ته رسيدل له يوې سختي او کنډو کپر لارې کـېـږي چې ډېـر ختل او کوزيدل لري. دا کلا د يوې درې تنګي په بنې لاس باندې مسلطه ولاړه ده، دا دره معمولاً د شولو د پټيو په پار د خړوبولو تر اوبو لاندې ده. دا کلا د ۱۸۴۲ز کال د جولای د مياشتې په ۲۷ نيټې د جګړن سکينر تر مشرى لاندې د ۳۱ کنډک د يوې ډلې له پلوه ونړول سوه. (ستاکولر)

* **مـَــريد:** ماريد: [46]: ۹ ــ ۳۵، ۱۷ ــ ۷۱ «ن»: دا د کونړ د سيند د يوې څانګې «بارګان» [47] په شمال لويديځ کې يو کلى دى.

* **مريګت**: [48]: ۱۷ ــ ۳۳، ۴۴ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزنې په ولايت کې د « سر دهٔ بند» [49] په سويل ختيځ کې د «رودِ جلګـهٔ جنوبي» [50] د يوې څانګې د غاړې په اوږدو کې يو کلى دى.

**مرستان**: وګورى: ايسارک: حصارک

**مرکه**: [51] :دا د دايزنګي هزاره ګانو د «ينغور» [52] د قبـيلې يوه فرعي څانګه ده.

**مرکدم**: [53] :دا د باميانو د ولسوالي د «ختاى» [54] هزاره ګانو يوه څانګه ده.

**مرکنډي**: [55]: ــ ۳۴، ــ ۷۱: دا د پيچ د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې د ۴۰ کورونو يوکلى دى چې له چغه سراى څخه ۸ مايله پورته موقعيت لري. دلته اړتيا توکي پريمانه دي. (آى. بي. سي)

---

45 -MARIAZ
46 -Marid
47-Bargan
48-Marigat
49-Sar Deh Band
50-Rud –i- Julga-i- Janubi
51-MARKA
52-Yanghur
53-MARKADAM
54-Khatai Hazaras
55-MARKANDI


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

* **مار خانه**: ۲۲ – ۳۳، ۱۹ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولايت کې «بولاغي» [56] ته نېـږدې د «لال چک» [57] په شمال ختيځ کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای د ميدان په ولايت کې د نرخ په سويل لوېديځ کې په ۲۱ – ۳۴، ۴۳ – ۶۸ «ن» کې موقعيت لري.

**مارخانه**: ۲۰ – ۳۴، ۳۱ – ۶۷ «ج»: دا د بهسود په لوېديځ کې د کابل – هزاره جات – دولت يار د عمومي سړک د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی. په همدې نوم کندوالي په ۲۴ – ۳۴، ۳۵ – ۶۷ کې موقعيت لري. (لودويگ آدمک)

**مارخانه**: ـ ۳۴، ـ ۶۷: دا نوم د «خواص» [58] کوزنيو برخو ته ورکړل سوی دی.

**مارخول**: [59]: ـ ۳۳، ـ ۶۸: دا له غزني ښخه د «جرماتو» [60] تر درې پورې د «گل کوه» [61] په غرنی لړۍ کې يو کوتل دی. دا د شپږو واړو کوتلونو په منځ کې کټ مټ هماغه جوړښت لري لکه چې «گل باوري» [62] کوتل ئې لري. اوسنی نقشې د مارقول نوم په ۴۰ – ۳۳، ۱۹ – ۶۸ «ن» کې ښيي. (لودويگ آدمک)

**مرکي خيل**: [63]: ۸ – ۳۴، ۱ – ۷۰ «ن»: دا د گندمک د سويل په ۷ مايلۍ کې په همدې نوم د سيند په ښي غاړه کې يو کلی دی. د کلي استوگن وگړي شيرزاد خوگياني دي. د کلي گرد چاپېره سيمه کرنيزه سيمه ده چې تاکستانونه او د حبوباتو پټي لري. کورم ته يو سړک له همدې کلي ښخه تـېـرېـږي. د مرکي خيلو سيند «چې په عام ډول د هاشم خيلو د سيند په نوم هم يادېـږي ؛ سيند ته دا نوم د هاشم خيلو له کلي ښخه ورته ورکړل سوی چې له مرکي خيلو ښو مايله کوز موقعيت لري» د سپين غرۀ له سويلي ډډو ښخه راپورته کـېـږي او د گندمک د شمال په نېـږدې ۵ مايلۍ کې د سرخاب سيند ته ورغورځي. د پـېـښور – کابل سړک د دې سيند په يوۀ پلـۀ باندې تـېـرېـږي؛ دا له ډبرو او لرگيو جوړ پل د دوست محمد پر مهال جوړ سوی دی. دا پل په لومړيو کې په بشپړ ډول د معمارۍ يو ټينگ پل وو خو له جوړېدلو وروسته د وخت په تـېـرېدلو سره د پلـۀ لينديۍ يا قوس په لرگيو مرمت سوی دی. «په ۱۹۰۵ز کال» کې دا پل ډېـر کاواکه او لړزېدونکی وو خو عرابه لرونکي وسايط په خوندي ډول ورباندې تـېـرېدل؛ شک لرم چې دا پل دې د توپ د تـېـرولو لپاره مناسب وي. دا پل ۱۲۰ يارده اوږد او ۱۸ فيټه پراخ دی؛ په همدې ټکي کې د آگست په مياشت کې د اوبو بهير ۹ فيټه ارت او ۱ فيټ ژور وو چې په ۱۰۰ يارډې ډبرين بستر کې ئې اوبـۀ بهيدلې او د سيند غاړې ۱۰ فيټه لوړې وې. (ملسن، ونليس، آی. بي. سي)

**مارکوه**: [64]: ۱۵ – ۳۴، ۴۹ – ۷۰ «ج»: دا د باسول په لوېديځ کې يو غر دی، دا ځکه مار کوه يادېـږي چې دې غرۀ کې ډېـر ماران موندل کـېـږي. دا غر د سپين غرۀ د مهميز پای دی چې د مهمند درې په لوېديځ کې غځېدلی دی. (ميسن)

---

[56] -Bolagha
[57] -Lalchak
[58] -Khawas
[59] -MARKHOL
[60] -Jarmatu
[61] -Gulkoh
[62] -Gulbauri
[63] -MARKI KHEL
[64]- MARKOH : د ژباړونکي يادونه : دا نوم د سانسکريت د «ناگ گر» اړول سوې بڼه ده. د ستر الکسندر يون ليکونکو يا واقعه نگارانو چې د الکسندر له لښکرليږد سره مل ول په همدې ځای کې د يوې پېښې يادونه کوي. دوی وايي چې دا ځای ددوی په اسطوره وي رواياتو کې راغلی دی او له همدې کبله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**مرنو:** [65]:– ۳۴، – ۷۰: دا په سپین غرهٔ کې یو منځغری دی چې د بالا باغ په سویل کې موقعیت لري دلته افغان «پښتانهٔ - ژ» شپانهٔ استوګن دي. (میسن)

**مَرتضی:** وګورئ: مُرتضی

* **مرو:** [66]: ۵۰ – ۳۳، ۳۱ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د غزني – کابل د سړک په لویدیځ کې او د جاغوري – وردک په شمال ختیځ کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د «شینکي غرهٔ» [67] په سویل او د وازې خوا په شمال لویدیځ کې په ۱۶ – ۳۲، ۸ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري.

**مروړ:** [68]: ۳۵، – ۷۱: دا د «مدوګل» [69] د قبیلې یو کوچنی کلی دی چې ۸ یا لس کورونه لري چې د «باشګل» [70] د سیند له پاسه ودان سوي دي، دا کورونه د اوبو له سطحې څخه څو سوه فیټه لوړ دي چې د سیند په مقابل لور کې د «کتیر [71] » د قوم د «سنرو» [72] د قبیلې یو کوچنی کلی ودان سوی دی. (رابرتسن)

**مروت**: دا د لوهانیانو یوه څانګه ده. په دې نوم یو کلی په حصارک کې په ۱۶ – ۳۴، ۴۷ – ۶۹ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**مرز:** یا: ومرز: [73]: ۲۲ – ۳۵، ۳۸ – ۶۹ «الف»: دا د پنجشیر په پورتني منځغري یا میان کوه کې د کلیو یوه ډله ده چې له کابل څخه ۸۴ مایله لیرې او د تاجیکانو ۲۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (شهزاده تیموس)

* **مارزک** : : [74] : ۲۱ – ۳۳، ۱۲ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د زرمت په سویل ختیځ کې شاهي کوټ ته نېږدې یو کلی دی.

**مـَشکي: یا: مـُشـکي:** [75]: ۱۴ – ۳۳، ۱۳ – ۶۸ «الف»: لوړوالی: ۶۹۰۰ فیټه. دا کندهار – غزني د سړک په اوږدو کې د کلیو یوه ټولګه ده چې له کندهار څخه ۲/۱ – ۱۹۲ او له غزني څخه ۲۹ مایله لیرې موقعیت لري. د دغو کلیو کرنیزې ځمکې چې د دوه وو کاریزونو په اوبو خړوبېږي حاصلخیزه دي. لاندې د مُشکي ډلې د کلیو نومونه وړاندې کېږي:

---

الکسندر د ګلانو تاج پر سر کړ او ناګ ګر ته وخوت. ددې روایت شرحه زما په بل ژباړل سوي کتاب کې راغلې ده چې اچ ولسن لیکلی او ما د لرغوني آریانا په نوم پښتو ته ژباړلی دی.

65 -MARNU
66 -MARU
67 -Shinkai Ghar
68 -MARWAR
69 -Madugal
70 -Bashguls river
71 -Katir
72 -Sunru
73 -MARZ OR VOMARZ
74-MARZAK
75- MASHAKI (or MUSHAKI) : ددغه نوم مخې ته ئې په عربي الفباء «موشکي» لیکلي دي. -ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | خاه مَـشَــکي | | Khah Mashaki |
| ۲ | حاجي موسی | | |
| ۳ | قلعهٔ میري | Kala -i -Meri | ټول اندړ دي |
| ۴ | آخوند خیل | | |
| ۵ | قلعهٔ مُرچي | | Kala-i-Murchi |
| ۶ | سید موسی | | استوګن وګړي: سیدان |
| ۷ | قلعهٔ دراني | | استوګن وګړي: درانیان |

کله چې د ۱۸۸۰ز کال د اپریل په میاشت کې سر دونالد ستیوارت دې ځای ته راورسید ټول یاد سوي کلي تش او متروک ول خو د ستیوارت کمپ ته اړتیا توکي هزاره ګانو راورسول.

په دې مخ خلاصې شګلني دښتي کې د کمپ وهلو سیمه ۲/۱ – ۱ مایل اوږده ده. اوبـهٔ ئـې پریمانه دي او اړتیا توکي باید په ډېــرې اندازې ورڅخه ترلاسه سي؛ خو سون توکي په کې په ندرت موندل کـېــږي.

د کندهار – غزني له سړک سره یو سړک په مشکي کې یو ځای کـېــږي. (ګسیلي، آی. بي. سي)

* **ماشي کلی:** ۱۰ – ۳۳، ۱ – ۷۰ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د «سرګــلـی» [76] په سویل کې د غلام خان د کلي په شمال کې یو کلی دی.

**ماشوخیل:** ۲۱ – ۳۴، ۵۵ – ۶۸ «ن»: دا د کابل په ولسوالي کې د «تیتمور» [77] په دره کې د کابل د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. دې کلي کې د «سهاک غلزیو» [78] ۲۰ کورنۍ استوګنې دي. (کومب)

**مشوري:** [79] : ۱۲ – ۳۲، ۲۱ – ۶۸ «ن»: دا د وازې خوا په دره کې یوه کلا ده. (براد فوټ)

**مشواني:** [80] : ۴۶ – ۳۴، ۶ – ۶۹ «ج»: دا په دیوالونو کې محصور د کابل د سیند په ښی غاړه کې د باسول د لویدیځ په شاوخوا ۹ مایلی کې یو کوچنی کلی دی. دا کلی جلال آباد ته د تللي عمومي سړک د شمال په قریب ۳۰۰ یارډی کې موقعیت لري. دې کلي کې د مشوانیو ۶۰ کورنۍ دي «چې په ۱۹۰۴ز کال کې ئـې» تقریباً ۳۰۰ غواګاني، ۵۰۰ پسونه او وزې او ۵۰ ګاومیښې درلودلې. د دې کلي د غنمو او وربشو کلنۍ تولید تقریباً ۵۵۰۰ هندي مونډه دی. ونلیس په دې نوم یو بل کلی د «میالي صاحب» [81] د ختیځ په لس مایلی کې په ۲۰- ۳۴، ۴۳ – ۷۰ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**مسکه**: [82]: دا د جاغوري هزاره ګانو د «آته» [83] د قبـیـلې یوه لویه فرعي څانګه ده.

**مسکني**: [84] : – ۳۳، – ۶۹: دا منګلو په سیمې د کورم د درې په سر کې له پیوار څخه نېــږدې ۱۱ مایله لیرې یو کلی دی. (آغا عباس)

---

76-Sargali
77-Taitamur valley
78-Sohak Ghilzais
79-MASHURI
80-MASHWANI
81-Miali Sahib
82-MASKA
83-Ata
84-MASKANI


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**مست علي**: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال د ولسوالي د کامي په علاقه دارئ کې د «دِهٔ طاهر» د شمال په نېـږدې يو مايلى کې يو کلى دى. استوګن وګړي: دهګانان او هندکيان. (جنکينز)

**مستي خيل**: ۲۶ – ۳۴، ۱۸ – ۶۰ «ج»: دا د جلال آباد د ولسوالى د سرخاب په علاقه دارئ کې يو کلى دى. استوګن وګړوي: غلزي. (جنکينز)

**مستي لګد**: يا: مستوى الګد: [85]: ۵۳ – ۳۲، ۲۶ – ۶۹ «الف»: الګد پښتو لغت دى چې د خوړ په معنى دى – ژ دا يو سيند دى چې د بهيدلو مخه ئې ختيځ لور ته ده او په «دوه توى» [86] کې د «مرغه» [87] له سيند سره يو ځاى کېـږي، دواړه سيندونه په ګډه د «توچي سيند» [88] جوړوي. د مست د درې کوزنۍ برخه تـنګه او سخته ده. له «دوه توى» څخه يو لاره چې پينځه مايله واټن لري د «لګ کلا» [89] ته تللي ده، دا لاره له همدې ځايه په ډېـرو ستوغو غرونو ورخېـږي او ځان د «خازه په درې کې» [90] يوهٔ مخ خلاصي ځاى ته رسوي چې «لوړه» [91] نوميـږي. له لوړې څخه يوه لاره تر «ډنګر الګد» [92] پورې تللي چې د مستوى يوه څانګه ده، او بيا ځان د «پې پالي» [93] کلي ته رسوي ورپسې د سيند په غاړو کې پر مخ ځي او ځان «پير کوټي» [94] ته رسوي. دا اړخ د اوښانو د تګ لپاره له سره تر پايه آسانه لاره ده؛ د «داوړ» [95] له سيمې څخه تر «پيرکوټي» پورې لاره تر ټولو نورو لاره ښه لاره ده. (دګلس)

**متا**: [96]: ۲۷ – ۳۵، ۴۵ – ۶۹ «الف»: دا د پنجشير په پورتـني منځغري کې له «مرز» څخه ۷ مايله پورته يو کلى دى چې د تاجيکانو ۵۰ کورونه په کې دي. (شهزاده تيموس)

**متک**: وګورئ: غوربند

**متا قلعه**: په هزاره جاتو کې يو کلى دى.

* **متاخان**: [97]: ۱۶ – ۳۳، ۵۲ – ۶۹: متاخان د پکتيا د ولايت يوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۴۳۱ کيلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمېـر ئې له ۵۱۹۰ تر ۸۲۵۵ تـنو پورې چې بزګرې پرګني دي اټکل سوى دى. دا علاقه داري له سويل لوري له «سرحوزې» [98] ، له ختيځ لوري له «اورمه» [99]، له شمال لوري له زرمت او له لويديځ لوري له

[85] -MASTOI Or MASTI LGAD
[86]-Dwa Toi
[87]-Margha
[88]-Tochi river
[89]-Lag Kala
[90]-Kazha valley
[91]-Lwara
[92]-Dangar Algad
[93]-Paipali village
[94]-Pir Koti
[95]-Dawar country
[96]-MATAH
[97] -MATA KHAN
[98]-Sarhawza
[99]-Orma


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

«ښاران او دهيال» [100] سره کرښه لري. متا خان ۲۷ کلي لري چي يو کلی ئـي له ۵۰۰ تنو ډېـر اسـتوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Shah Qala | شاه قلا | Koti Khel | ايراهيم زي | | کوتي خيل | Tatorai | تاتوري |
| ابراهيم کاريز «ابراهيم کلی» | | Laghar | لغر | Shor Kacha (Shor Kaja), | | شور کچه «شور کجه» | |
| مرجان خيل | | Aka Khel | اکا خيل | Gunbat, | ګنبت/ ګنبد | Shinkai | شينکی |
| بهرام کلی | | Paikar | پيکار | Dado Khel | دادو خيل | Maryani | مرياني |
| Chawni | چوني | پولاد خيل | | سيدو کيلی | | فقير کلی | |
| عمرخيل | | Landiwal | لنديوال | Mullayan | ملايان | Karsu | کارسو |
| Aw Gudar | او ګودر | توده چينه | | Chowal Khel | چووالخيل | Gerdi | ګردي |
| Petkai | پيتکی | جمالي | | تور خيل | | Khar Dewal | خرديوال |
| هزار خيل | | کمکی جمالي | | تيمورخيل | | Lat Khel | لټ خيل |
| Gulran | | ګل ران | | قلعۀ ګل | | سورکی | |

**متون: يا: خوست:** [101]: ۲۲ – ۳۳، ۵۷ – ۶۹ «الف»: دا د پکتيا د ولايت يو لوی ښارګوټی او ولسوالي ده. د خوست د لا نورې شرحي لپاره وګورئ: د خوست ولسوالي. (لودويګ آدمک) دا سيمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې وه: لوړوالی: ۳۸۹۲ فيټه. متون په خوست کې يو له اساسي ځايونو څخه دی ؛ متون له دوبې پرته د کال نورې ټولې برخې د د دې ولسوالي د حاکم استوګن ځای وي. متون کې د کليو يوه لويه ډله ده چې د متون د سيند په دواړو غاړو کې واقع ده؛ دا سيند د «منګل له غرونو» [102] څخه د «غلانګ په درې» [103] کې سرچينه اخلي. په متون کې دوې کوچنی کلا ګاني دي، په يوې کلا کې د سپارۀ ځواک يوه کنډک او په بلې کلا کې د پلي ځواک يوه ليوا ځای پر ځای ده. په متون کې د دغو سرتـيـرو تر څنګ د پلي ځواک دوه نور غنډونه، ۲۷ توپونه (۱۲ ئـي غرني توپونه، ۱۱ ئـي صحرايي توپونه او ۴ ماشن ګني)، او ۶۰۰ خاصه داران هم ځای پر ځای دي. ويل سوي چې دا ماشين ګني په ۱۹۰۵ز کال کې «چې پخوا د کلا په ديوالونو کې نصب سوې وې اوس د ځمکې پر مخ اېښودل سوي دي.» ياد سوي ځواکونه ټول د متون د ګارنيزون عادي ځواک دی، دا ځواکونه ټول په تودې هوا کې «ګبر منګل» [104] ته د خوست له حاکم سره يو ځای ځي. (آی. بي. سي د ۱۸۷۹ز کال په شاو خوا کې په متون کې د تر سره سويو عملياتو لپاره وګورئ: «د افغان دويمي جګړې رسمي تأريخ» [105]

**متون ګی:** [106]: ۳۵ – ۳۴، ۴۳ – ۶۹ «ج»: لوړوالی: ۱۲۷۰۰ فيټه. دا په «هاريوب» [107] کې د «لخاري د کوتل» [108] په ۸ مايلۍ کې او د علي خيلو د شمال په ۶ مايلۍ کې يو غر دی. «ګوردن»

---

100-Sharan and Dehyale.
101-MATUN Or KHOST
102-Mangal Hills
103-Ghalang Dara
104-Gabar Mangal
105-Official History of the Second Afghan War
106-Gabar Mangal
107-Hariob
108-Lakhari Kotal


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

**متوَر**: [109]: ــ ۳۳، ــ ۶۹ : دا د «مخبل» [110] په دري کې له هغهٔ ټکي نیم مایل لیرې یو کلی دی چې د مخبل سیند د کورم له سیند سره یو ځای کېږي. د کلي په سویل کې ځمکه تر ډېره خوړ وړې ده. (آی. بې. سي) کیدای سي دا کټ مټ هاغه ځای وي چې شرحه ئې لاندې راځي.

* **متوَرخ** : [111]:۴۷ ــ ۳۳، ۵۳ ــ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د ځمکنیو د ختیځ په نږدې ۶ مایلی کې د پاکستان پولې ته د نیمايي لارې په اوږدو کې یو کلی دی.

**مولانا**: [112]: ــ ۳۳، ــ ۶۸: لوړوالی: ۹۱۴۰ فیته. دا یو کوتل دی چې د خروار په شمال کې واقع غرونو باندې منتهي کېږي. ویل سوي چې د دې کوتل لاره آسانه ده. په حقیقت کې دا د «کوتلِ کالام» [113] د ځانګې منتهی الیه ده. (ګریسباخ)

**میاخیل**: دا د لوهانیو یوه څانګه ده چې د میا یا میان خیل په ډول هم یادېږي. په دې نوم یو کلی د چهارآسیاب د سویل په ۲ مایلی کې په ۲۱ ــ ۳۴، ۱۰ ــ ۶۹ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**مایارِ اکبرخان**: [114]: ۳۴، ــ ۷۰: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه داری کې د کابل د سیند په شمال کې، د «ګردي کڅ» [115] په مقابل لور کې یو کلی دی. د کلي استوګن وګړي مهمند دي. (جنکینز)

**مزنګ**: یا: مزونک: [116]: **دِهٔ مزنګ** : ــ ۳۴، ــ ۶۹: **دهٔ مزنګ** د کابل د ښار د لویدیځ په ۱ مایلی کې یو کلی دی چې غزني ته د تللي سړک په اوږدو کې د یوهٔ منځغري په مرکز کې واقع دی. استوګن وګړي: تاجیکان او قزلباشان. د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر د میاشتې په یولسمي نیټې کله چې د سپارهٔ ځواک سپرو او د آس ــ توپچي ځواک له چهاردهي څخه شاتګ کاوهٔ دا کلی د دوه اویایم هایلندر ځواک د ۲۰۰ تنو سرتېرو په مټ اشغال سو چې له شیرپور څخه لېږل سوی وو او د افغانانو د پرمختګ مخه پرې ونیول سوه. (آی. بي.سي) دا کلی اوس د کابل یوه برخه ده. (لودویګ آدمک)

**مزار**: دا یو سیند دی چې د کافرانو له سیمو څخه رابهېږي او د کونړ د سیند له لویدیځي غاړې سره یو ځای کېږي. (میسن)

* **مزار**: ۱۳ ــ ۳۳، ۳۱ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د ,,بند سردهٔ،، په سویل لویدیځ کې د شاه جوی په سویل ختیځ کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل ځای د غزني په ولایت کې د ,,تور بند،، په ختیځ کې د ,,لال چک،، په سویل لویدیځ کې په ۱۶ ــ ۳۳، ۹ ــ ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

**مزار**: ۳۹ ــ ۳۴، ۴۵ ــ ۷۰ «ج»: دا د جلال آباد د ولسوالي یوه علاقه داري ده چې لاندې کلي په کې شامل دي:

---

109-MATWAR
110-Mukhbil valley
111-MATWARKH
112-MAULANA
113-Kotal -i- Kalam
114- MAYAR- I -AKBAR KHAN : ددغه نوم څنګ ته ئې په عربي الفباء «میار اکبرخان» لیکلي دي. - ژ
115 -Girdi Kats
116-Girdi Kats


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| د کلي نوم | | د کورونو شمـېـر | استوګني قبـېـلې | |
|---|---|---|---|---|
| بانډهٔ زبر دست | Banda -i- Zabardast | ۱۲ | بارکزي | |
| میر | | ۵۰ | بارکزي | |
| شاه نور | | ۵۰ | سیم زي | Simzai |
| خوشي | Khushi | ۲۰ | سیم زي | |
| کلا ګی | Kala -i -Gai | ۵۰ | سیم زي | |
| مد د کلا | | ۲۰ | بارکزي | |
| قلعـهٔ ګدا | Kala -i -Gada | ۶۰ | سیم زي | |
| دِهٔ ساره وال | Deh -i- Sarawal | ۸۰ | سیم زي | |
| ګـُم چندو | Gumchandu | ۱۵ | تاجیکان | |
| فیض کلا | | ۳۰ | بارکزي | |
| ګروه نن دا لام | Gurwah Nundalam | ۲۰۰ | سیم زي | |
| غازي آباد | | ۳۰۰ | ګډ قومونه | |
| شور آباد | | ۵۰ | بارکزي | |
| قلعـهٔ ګي | Kala -i -Gai | ۲۰ | بارکزي | |
| شاه نور کلا | | ۲۰ | بارکزي | |
| قلعـهٔ مهیاز | Kala -i- Mahiaz | ۲۰ | بارکزي | |
| قلعـهٔ آخون | Kala- i -Akhun | ۲۰ | بارکزي | |
| قلعـهٔ میرو | | ۳۰ | بارکزي | |
| باریس | Baris | ۱۵ | بارکزي | |
| فاري | Fari | | بارکزي | |
| خوند | Khund | | ګربز | |
| کلان | Kalan | | ګربز | |
| باز | Baz | | کندهاري | |
| په لومړي چاپ کې د پورتنی شرحه سرچینه نه ده یاده سوي چې چا دا معلومات راټول کړي دي | | | | |

* **مزار خیل**: ۲۷ – ۳۳، ۳ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې ګردیز ته د تللي سړک په اوږدو کې د زرمت په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.

**مزګین:** [117] : ۸ – ۳۴، ۱۲ – ۶۹ «ن»: دا د لوګر په دري کې د زرغو ښار د شمال ختیځ په ۵ مایلی کې یو کلی دی چې له «سرخ آو» [118] سره په ګډه یو ښارګوټی جوړوي چې حاکم ئـې په ۱۸۸۰ز کال کې په قوم احمد زی پادشاه خان وو. د مزګین استوګن وګړي تاجیکان دي چې په ۱۸۸۰ز کال کې ۳۰ کورنی په کې وې. د دې کلي د ګاونډ کرنیزې ځمکې ډېرې ښې کرل سوې او د «سرخ آو/ سرخ آب - ژ» د سیند او د کاریز په اوبو خړوبېـږي. (ایوان سمیټ، کلیفرډ، آی. بي. سي)

**مزید**: دا د بهسود هزاره ګانو یوه فرعي څانګه ده. په دې نوم یو کلی د غزني په ولایت کې د مشکي په سویل کې په ۲ – ۳۳، ۱۳ – ۶۸ «ن» کې واقع دی. (لودویګ آدمک)

117-MAZGIN
118-Surkhao


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**مازینه: مزینه:** [119] : ۱۳ – ۳۴، ۲۹ – ۷۰ «ن»: لوړوالی: ۴۰۰۰ فیټه. دا د جلال آباد په ولسوالي کې د «حصارک رود» [120] په بنی غاړه کې یو کلی دی. دا کلی د جلال آباد د سویل ختیځ په ۱۵ مایلی کې او په همدومره واټن د بریکوټ په سویل لویدیځ کې موقعیت لري. د دې کلي استوګن وګړي سیدان او دهګانان دي چې له ختو جوړې بې شمېره کلا ګانې لري او ګرد چاپیره ئې کرنیزې ځمکې او د میوو بنونه راتاو دي. له دې کلي څخه اړتیا توکي پریمانه ترلاسه کیدای سي.

د ۱۸۴۲ز کال د جولای د میاشتي په ۲۷ نیټي د ,,بریګیدیر مانتي,, تر مشرۍ لاندې یوۀ برتانوي ځواک د شینوارو ۳۵ کلا ګانې د لوټ او تالا په سزا کې ونړولې. په دغو عملیاتو کې د برتانوي ځواک تلفات دا ول: «بریدمن مکلوین» [121] د ۳۱ پلي ځواک برید من، دوه تنه نور ووژل سول او ۲۳ تنه ټپیان سول.

همدا مزینه د ۱۸۸۰ز کال د مي په میاشت کې د یوې نښتې صحنه وه چې تورن جنرال ګیب ملا فقیر ته ماتي ورکړه. د همدې جګړې د شرحې لپاره وګورئ: « د افغان دوهمي جګړې رسمي تأریخ» (آی. بي. سي)

* **مهمان کلی**: [122]: ۱۸ – ۳۲، ۲۴ – ۶۸ «ن»: ۱۸ – ۳۲، ۲۴ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «ماشوري» [123] د شمال په ۷ مایلی کې «لوی زیري غرۀ» [124] ته نېـږدې یو کلی دی.

**مهربان کلا**: [125] : ۲۸ – ۳۴، ۳۷ – ۶۸: دا د کابل د سیند په ښی غاړه کې د جلریز د لویدیځ په نېـږدې ۲ مایلی کې یو کلی دی. استوګن وګړي: تاجیکان. (ونلیس)

نور بیا

## * مهتر لام : د لغمان...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

119-MAZINA
120-Hisarak Rud
121-Macllveen
122-MEHMAN KALAI
123-Mashuri
124-Loy Ziri Ghar
125-MEHRBAN KALA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ